مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

غلام جیلاني ځواک ۲۰۲۵/۰۶/۱۹

د ترامپ او عاصم منیر لیدنه

نن د امریکا جمهور رئیس ډونالډ ټرمپ د پاکستان لوي درستیز، فیلډ مارشال عاصم منیر ځانګړی لیدو لپاره رابللی، دا لیدنه به د کابینې په خونه کې ترسره شي.
پاکستاني رسنۍ وایي د امنیتي او حساس وضعیت له امله دې لیدنې ته خبریالان نه دي را بلل شوي.
عاصم منیر چې د شهبازشریف په مشرۍ د پاکستان اوسنی حکومت د ده د سیاسي انجنیرنګ نتیجه ګڼل کیږي او ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم یې ټول واک پخپل لاس کې اخستی، هند سره له نښتې وروسته یې په وچ زور د پاکستان له حکومته د فیلډ مارشال رتبه واخسته او په دې توګه یې ځان تل پاتې کړ، اوس د امریکا جمهور رئیس په ځانګړي توګه لیدو لپاره خپل ځان ته رابللی.
د پلار او نیکه له وخته په غلامۍ اموخته د پاکستان پوځي ستبلیشمنټ لپاره دا یوه ډیره ستره د ویاړ خبره ده چې د امریکا جمهور رئیس د پاکستان د پوځ مشر نازوي او ځانګړي لیدنه کتنه ورسره کوي.
ډونالډ ټرمپ سره دا لیدنه به د پاکستان په پوځ او سیاست کې د عاصم منیر ځایګی لا مظبوط کړي.
په سیمه کې د امریکا ګټې اوس همدا ایجابوي چې پاکستان کې همداسې یو څوک حاکم وي چې که امریکا پرې هره لوبه کوي، څوک یې د مخالفت زړه ونلري، یاني یو ظالم او جابر دیکتاتور.
خو امریکا له پاکستانه غواړي څه؟
د روان کال د مارچ په میاشت کې د پاکستانی منابعو لخوا یو خبر خپور شو چې د پاکستان جمهور رئیس شهباز شریف، عاصم منیر، مریم نواز، دپاکستان د استخباراتو مشر او بهرنیو چارو وزیر په سعودي کې د امریکایی مقاماتو سره پټه لیدنه کړې، په دې لیدنه کې امریکایی مقاماتو له پاکستانه څو مهمې غوښتنې مطرح کړې،
اول دا چې، ترهګرۍ سره جګړه کې به پاکستان څرنګه، چیرته او کله چې امریکا غواړي، همهغسې عمل کوي،
دویم پاکستان به چین سره خپلو اړیکو کې بدلون راولي او ورو ورو باید دا اړیکې سړې شي،
دریم هرکله که سعودي عربستان اسرائیل په رسمیت وپیژانده، پاکستان به یې هم په رسمیت پیژني.
ځلورم او تر ټولو مهم دا چې، که احیاناً امریکا پر ایران برید کوي، نو پاکستان به بې پلوه نه پاتې کیږي بلکی څرنګه چې امریکا غواړي هغسې همکاري په ورسره کوي.
ضیاألحق د امریکا لخوا ونازول شو ترڅو د شوروي اتحاد به وړاندې مجاهدین استعمال کړي،
بیا یې پرویز مشرف د سترګو تور و ترڅو چې طالبان ولوبوي،
او اوس چې د اسرائیل لخوا پر ایران برید روان دی او داسې نښې ښکاري چې امریکا هم دې جګړه کې نیغ په نیغه ورګډه شي، ډونالډ ټرمپ سره د عاصم منیر لیدنه ځانګړی اهمیت پیدا کوی،
عاصم منیر ته د ټرمپ له ځانګړي بلنې داسې بریښي چې پاکستان د تل به شان د امریکا شرایطو ته غاړه ایښي.
عاصم منیر به نازور کیږي، ترڅو په نوي لوبه کې د ایران په خلاف او سبا د دې سیمې د نا امنه کولو لپاره د امریکا په خوښه سیمه کې پخوانۍ او نوې نیابتي ډلې ولوبوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ